# د پښتونولۍ روایت اوکلتوري عمل

## Pashtun tradition and cultural action

ډاکټر برکت شاه کاکړ*

**Abstract:**

Cultural processes have always been instrumental in shaping people’s peculiar attitudes and world views. As a creative act how cultural processes gets through a perpetual process of construction and deconstruction is one of the prime themes that has been discussed in this paper. In the first part of the paper, the author has carried out extensive epistemological overview to understand and articulate the fundamental concepts and dominant theories in the discourse. While in the second part an in-depth analysis has underpin circumstantial parameters and concrete pragmatic patterns that always influences cultures and traditions. How these patterns fit into the tradition of Pashtunwali; the unwritten code of Pashtuns is one of the main question, the paper unfolds.

د انسان او فطرت (محیط) تر منځ چې کوم باهمي تعامل کیږي او انسان چې په یوۀ خاص چاپېریال کښې خپل ځان او د خپل نسل د بقا دپاره کومې هلې ځلې کوي د هغه په نتیجه کښې ډېر اوزارونه، مشینونه، رواجونه، رسمونه او عادتونه په وجود کښې راغلي دي. کوم ارتقائي سفر چې انسان کړی دی د هغه تر شا یو پرله پسې شعوري عمل شتون درلودلی دی چې د انسانانو عملي او فکري پوهنه یې سیوا کړې ده. انسانانو د پر له پسې تجرباتو او پر هغوی د غور و فکر په نتیجه کښې نوي علوم، مهارتونه او روئې زده کړې دي د کوم په سوب چې دانسان د کار، هُنر او فکر معیار او ذهني صلاحیتونه نور اوچت شوي دي.

د مځکې پر سر د انسانانو د شتون تاریخ په لکهونه کلونه اټکل شوي دي. د لرغون پوهنې (اثار قدیمه) په ډګر کښې چې کومې نوې هڅې رامنځ ته شوې دي هغه دا حقیقت را برڅېره کوي چې ډېر نوم ورکي مدنیتونه او تهذیبونه چې ډېر پخوا یې شتون درلود خو نخښې نښانې یې دنړۍ د معلوم تاریخ په پاڼو کښې نۀ دي خوندي شوې. پیټرزواټسن په خپل اثر (Ideas, A History from Fire to Freud) کښې د انساني تخیل او مفکورود (40000-60000 ) کلونوپورې تاریخ څېړلی دی. ددې اثر په پېل کښې د انساني افکارو د زېږون پر تاریخ یو ځغلند نظر اچول شوی دی. هغه لیکي:

* Lecturer, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

"Cave art and carvings in abundance 60,000-40000 ago, domestications of plants and animals 14,000-6000 years ago, First use of clay for dwelling 11,000 BC: First writings in India 5500 BC, Gilgamesh first imaginative epic 2900 BC, first legal code 2100 BC and the wheel came into being in 2000 BC" (1).

ژباړه: "ددې اثر له رویه ثابتیږي چې په غارو کښې دموندل شوي ا رټ نخښې له 40000 څخه تر 60000 کلونو پورې پخوانۍ دي. له دې وروسته د څناورو د کورني (خانګي) کولو تاریخ د 14000 کاله او په اول ځل د خټو د ودانیو د جوړولو رواج کابو 11000 کلونه، لومړ ی ځل لیک 5500 او د ګل ګامېښ اولنۍ حماسه 2900 د مېلاد څخه پخوا کلونه زړه اټکل شوې ده. هم دغه ډول اولنی قانوني دستاویز 2100 مېلاد څخه پخوا کلونه او پایا(پهیه) 2000 مېلاد څخه په خوا کلونو وړاندې تخلیق شوې ده."

دانساني تاریخ او ارتقاء منزلونو په اصل کښې دانسان د فطرت د جبر څخه د خلاصون تاریخ دی. انسانانو د فطرت له جبره سره په مستقیمه توګه مبارزه کړې ده. ددې پرله پسې مبارزې له سوبه هغه دخپلوطبعي، فکري، روحاني اوذوقي غوښتنواواړتیاؤ د پوره کولو اوپر ستونزو د بر لاسي کېدو له پاره د ژوند او ژواک لارې چارې وضع کړي دي. دانسانانو دغه تخلیقي هڅې د کلتوري عمل پېلامه وګرځېدې اوانسان د یوۀ کلتوري، تهذیبي او ټولنیز سادار په حېث د خپلو اړتیاوو له پاره تهذیب اوکلتور تخلیق کړل.

د یادونې وړ ده چې د نړۍ زیاتره پوهان کلتور او تهذیب په معنوي لحاظ یو ګڼي. د دغو ټکو سره تړلې مفاهیم د ځانګړې ټولنیز نظام او ژبې سره هم اړه لري.

د اردوُ ژبې تکړه لیکوال سبط حسن د کلتور تعلق د زراعت سره ښودلی دی او تهذیب یې د ښار او مدنیت اولاد ګڼلی دی. هغه په خپل اثر "**پاکستان میں تہذیب کا ارتقاء**"کښې لیکي:

*" انگریزی زبان میں تہذیب کے لئے "کلچر" کی اصطلاح استعمال ہوتی ہے۔ کلچر لاطینی زبان کا لفظ ہے۔ اس کے لغوی معنی ہیں " زراعت، شہد کی مکھیوں ریشم کے کیڑوں سیپوں کی پرورش یا افزائش کرنا۔ جسمانی یا ذہنی اصلاح وترقی، کھیتی باڑی کرنا"*(2).

(ژباړه) "په انګرېزي ژبه کښې د تهذیب له پاره ټکی "کلتور" کارول کېږي. کلتور د لاطیني ژبې توری دی چې لغوي معنا یې ده "زراعت د شاتو د مچیانو یا د ریشم د خسمانانو د ودې عمل، جسماني یا ذهني اصلاح وترقۍ او د کښت کروندې و عمل ته وئیل کېږي."

خو ځنې علوم لکه انسان پوهنه، ټولنپوهنه او نور ټولنیز علوم د دواړو تر منځ یو ښکاره توپیر وړاندې کوي. د معنا او مفهوم له لحاظه دا دواړه ټکې سره ورته دي اود انساني ژوند ، سوچ، تخلیقاتو او روئیو سره نېغ تړون لري. سبط حسن وړاندې لیکي:

"تہذیب عربی زبان کا لفظ ہے۔ اس کے لغوی معنی ہے کسی درخت یا پودے کو کاٹنا چھانٹنا تراشنا تاکہ اس میں نئی شاخیں نکلیں اور نئی کونپلیں پھوٹیں۔ فارسی میں تہذیب کے معنی "آراستن، پیراستن پاک ودرست کردن واصلاح نمودن" ہیں۔ اردو میں تہذیب کا لفظ عام طور سے شائستگی کے معنی میں استعمال ہوتا ہے"(3).

ژباړه: ''په اصل کښې تهذیب د عربي ژبې توری دی چې معنا یې د درختو او ونو تاکبیري یا ښاخ تراشي کول دي. د اعمل د درختي د بقا او فصل له پاره لازمي وي. هم دغه توری په فارسي ژبه کښې د ښایست، اصلاح او ودې په معنا کښې کاریږي او په اردو کښې تهذیب د ښو اخلاقو، ښۀ خوی او خصلت او غوره عادتونو له پاره کارول کېږي''.

تهذیب انسان د خپل تاریخي او ټولنیز شعور په مرسته د خپل چاپېریال د بدلون د دوامداره عمل له لارې تخلیق کوي او د دې له پاره هغه د فطرت او معاشي او ټولنیزو غوښتنو په وسیله د ژوند او ژواک لارې چارې، علوم فنون، عقیدې، کرکې کږنې، قدرونه و رسمونه او رویې جوړوي.

د اردُو ژبې اوادب څېړونکی ډاکټر جمیل جالبي په خپل اثر "پاکستانی ثقافت" کښې د تهذیب او ثقافت دواړو له پاره ټکی "کلتور" کاروي، هغه په دې حقله لیکي:

"لغت میں تہذیب کو خارجی معنوں میں لیا جاتا ہے، جس میں خوش اخلاقی، رسم ورواج، گفتار و کردار شامل ہیں۔ جبکہ اصطلاح ثقافت کا تعلق لوگوں کی ذہنی صفات سے ہوتا ہے، جس میں علوم و فنون حاصل کرنا، سیکھنا سکھانا قابل ذکر ہے۔ لیکن میں نے ثقافت کیلئے لفظ "کلتور" کا استعمال کیا ہے(4)۔

ژباړه: ''په لغاتو کښې تهذیب په خارجي معناوو کښې استعمالیږي، چې په کښې خوش اخلاقي، دود درک، گفتار و کردار شامل دي، او د ټکي "ثقافت" زورد خلقو د ذهني صفاتوسره تړون لري، چې د علوم و فنون او د زده کړې د عمل احاطه کوي. ما دتهذیب او ثقافت له پاره لفظ "کلتور" کارولی دی.''

په دې مقاله کښې به اصطلاحات "کلتور اوروایت" په وار وار زمونږ و مخته راځي. ځکه په دې حقله یو څۀ تفصیل وړاندې کول به بې ځایه نۀ وي.

د علم اشتقاق د آن لاین قاموس کښې د کلتور تعریف داسې را خیستل شوی دی.

"Culture is derived from Latin and literally means for cultivation" (5).

ژباړه: "کلتور" د لاطیني ژبې اصطلاح ده چې معنا یې "کرّنه، کښت او کرونده کونه ده".

د علم اشتقاق (هغه علم چه دلغاتو رېښې څېړي) له رویه دغه توری کلتور د "ودې او روزنې" په معناو کښې راوړل شوی دی. اول ځل په ۴۵ میلادي کال کښې دروم فلسوف "سیسرو" په خپل اثر (Tikslian Disputation) کښې دفلسفیانه فکر او روحاني ودې او روزنې دپاره راوړی دی. د انساني کردار تراشلو

اود ذهن "ودې" ته د کښت او کروندې سره نسبت ورکول مناسب ښکاري. دغه توری و انګرېزي ژبې او ادب ته د نولسمې پېړۍ په شاوخوا کښې داخل شوی دې او بیا د یورپ د بیداری په وخت کښې دغه توری دمفاهیمو له لحاظه د پر له پسې بدلون سره مخامخ شوی دی. قاموس (Online Merriam Webster) په دې حقله لیکي:

"The customary beliefs, social forms, and material traits of a racial, religious, or social groups also: the characteristic features of everyday existence (as diversions or a way of life) shared by people in a place or time"(6).

ژباړه: کلتور د یوې نسلي، مذهبي یا ټولنیزې ډلې و رسمې عقیدو، ټولنیز ډولونو او مادي مېلاناتو ته وئیل کېږي، په بله معنا د یوې سیمې د خلقو په یوۀ خاص وخت کښې د ژوند لارو چارو ته هم کلتور وئیلی شو.

کله چې کلتور د ودې او ښوونې په معنا کښې راوړل شي نو د کلتور او تعلیم تر منځ مناسبت نور ژور شي.په هم دې قاموس کښې وړاندې د کلتور او تعلیم تر منځ یو نژدې مناسبت داسې بیان شوی دی.

"The act of developing the intellectual and moral faculties especially by education"(7).

ژباړه: "کلتور د تعلیمي عمل له لارې د انساني ذهنیت اخلاقو او ذهني و عقلي فراست د ودې عمل ته وئیل کېږي"

هسې خو د بېلا بېلو علومو له رویه کلتور ځانګړې معناوې لري خو بر طانوي بشر پوه اېډورډ بي ټېلر(Edward B. Tailar) په اول ځل په ۱۸۷۱ء میلادي کال کښې دعلم بشریات په چوکاټ کښې خپل اثر (Ancient Culture) تصنیف کړو، په دغه اثر کښې هغه د کلتور په حقله لیکي:

"By culture we mean all those historically created designs for living, explicit and implicit, rational, irrational, and nonrational, which exist at any given time as potential guides for the behavior of men"(8).

"کلتور د یوې ټولنې دعلومو، اعتقاداتو،یرو، قوانینو، دود دستور،ا رټ او اخلاقي قدرونو نوم دی. له کلتور څخه زمونږ مراد دژوند تېرولو هغه بشپړه ډیزاین دی چې دتاریخي عمل له لارې د خلقو خوښې نا خوښې، عقلي او غېر عقلي رویې جوړوي".

د کلتور په حقله که څۀ هم بېلا بېل نظرونه شته خو په ټولو نظرونو کښې تر ډېره حده پورې یووالی ښکاري. په لنډو ټکو کښې کلتور د انسان د ژوند د هر اړخ احاطه کوي چې په کښې دانسانانو رویې، اجتماعي او انفرادي سوچ او عمل، دروزګار، پېداوار اوټولنیز ژوند، مذهب او زده کړې ادارې، دغم ښادۍ،کوزدې، پور وتور، ټنګ ټکور، روغ وجوړ، مرګ وژوند لنډه دا چې د ژوند د هر اړخ بشپړه انځور په کښې لیدل کېږي.

له دې څخه مونږ دا اندازه هم لګولی شو چې کلتور دټولنیز ژوند هغه زړه او پخوانۍ درخته ده چې رېښې یې د وګړو په تاریخي او اجتماعي شعورکښې ښخې دي. زیاتره ټولنپوهان کلتور ته کُل وایي اود ټولنې او وګړو د ژوند هر عمل ددې جز بولي. د ټولنې مادي، ذهني، خارجي او داخلي ټولې برخې ددې درختي څانګې دي. ډاکټرجمیل جالبي په خپل اثر کښې مخ ته لیکي:

"کلچر اس کل کا نام ہے جس میں مذہب و عقاید، علوم و اخلاقیات، معاملات اور معاشرت، فنون وہنر، رسم، رواج، افعال ارادی، قوانین، کھیل کھود اور تمام ترعادات واطوار جوایک شخص معاشرے کے ایک فرد کے طور پر سرانجام دیتا ہے"(9).

(ژباړه):"کلتور د هغه کل نوم دی، چې په کښې مذهب، و عقاید، علوم او اخلاقیات، معاملات او معاشرت، فنون و هنر، رسم ورواج، افعال ارادي، قوانین، د ساعت تېرولو او لوبو طرزونه او ټول عادتونه شامل دي چې یو وګړی یې د ټولنې د یوۀ فرد په حېث تر سره کوي".

کلتور په عمومي توګه په دوو برخو کښې وېشل کېږي چې ورته مادي کلتور او غېر مادي کلتور وئیل کېږي. په دې حقله به نور تفصیل مخ ته وړاندې شي.

## د کلتوراو روایت تخلیق او رغښت:

په عمومي توګه دکلتور په حقله چې کومې علمي څېړنې مخ ته راغلې دي هغه کلتور او تهذیب دانسانانو د تخلیقي او تنقیدي وصف پېلامه ګڼي. او بل دا چې د نړۍ پرسر هیڅ داسې مخلوق نۀ شته چې خپل ځانګړی ژوند دود او کلتور یې نۀ وي تخلیق کړی. که څۀ هم ځناور د خپلو جبلتونه په زندان کښې راګېر وي او خپل حالات او شرایط نۀ شي بدلولی، خو هر سادار دومره کولی شي چې د خپل ځان او نسل د بقاله پاره دي یوخاص ډول ژواک او ژوند خپل کړي. د ځناورو او انسانانو په کلتور کښې بل واضح توپېر دا هم وي چې انسانان د کلتور د مادي (Tangible) برخې سره سره غېرمادي (Intangible) برخه هم جوړه کړي. د طبعي کلتور (Tangible Culture) په ساحه کښې هغه ټول مادي شیان شامل دي چې په کښې پېداواري اوزار، مشینونه، جامې، خوراک، عمارتونه، تعلیمي، انتظامي او قانوني او نورې ادارې، د سوارلې او سفر کولو وسیلې، د موسیقۍ اوزار، لوبې، آرټ، لنډه دا چې هر هغه شې چې په مادي ډول انسانانو تخلیق کړی وي د شمارلو وړ دی. هم دغه ډول په غېر مادي کلتور کښې د ټولنې د مېلمستیا، بدرګې، اشر او مرستې قدرونه،د ننګ، غېرت، مړانې او پښتونولۍ تصورات او معیارونه، د ښادۍ او غم رسمُونه او رواجُونه، بدلې او سندرې، ټوکې، ټکرې، کرکې، کږنې، وهمونه، قیصې او نکلُونه، عقیدې، آداب او روایات هم شامل دي.

د انګریزي ژبې نوموړی ادیب (T.S. Elliot) کلتور په درو معناوو کښې راخېستی دی. ډاکټر مظفر حسن ملك په چاپ شوې پي ایچ ډي مقاله "ثقافتی بشریات" کښې په دې حقله داسې لیکي:

"جب ہم کسی ثقافت کے بارے میں بات کریں تو ہمیں خیال رکھنا ہوگا کہ ہم اس فرد کی بات کر رہے ہیں یا اس ثقافت سے متعلقہ معاشرے کے بارے میں۔ میری نظر میں معاشرہ ایک فرد کی ثقافت کو تشکیل دیتا ہے اور ایک سماجی گروہ معاشرے کی ثقافت کو متشکل کرتا ہے"(10)۔

ژباړه: (څهٔ وخت چې مونږ د کلتور پر موضوع باندې خبره کوو نو باید چې پام اوکړو چې آیامونږ د یوهٔ فرد پر کلتور ګاڼېږو یا د هغه ټولې (ګروه) پر کلتور چې دغه فرد ورسره تړلی دی. یا بیا د هغه ټولنې د کلتور چې دغه فرد او ټولې یې برخه ده. په هر حال زما نظر دا دی چې د یوهٔ فرد کلتور ټولې تشکیلوي او د ټولې کلتور د هغه ټولنه (معاشره) تشکیلوي ځکه نو د ټولنې و اجتماعي کلتور ته اولیت حاصل دی).

د کلتورمادي او غېر مادي برخې یو پر بل څهٔ ډول اغېزه کوي؟ کلتورڅهٔ ډول جوړېږي او ددې جوړښت پر کومو عواملو تکیه کوي؟ په دې حقله د فلسفیانو، بشر پوهانو او ټولنپوهانوتر منځ مزغن بحث شتون لري. خو دلته به مونږ د مارکس-اېنګلز (Marx and Angels)او د مېکس ویبر (Max Webber) د نظریاتو ذکر وکړو چې خبره نوره هم روښانه سي. یادول پکار دې چې د مارکس او اینګلز د معروفي مفکورې "مادي جدلیاتو" اډانه دهېګل د "تاریخي جدلیاتو" په مفکوره پرتې دي چې دتاریخ دسرزوري بهیر په بدلون کښې دانسانانو اجتماعي تنقیدي شعور او عمل ترټولو مهمه عامل ګڼي*.

دلته د فرضیه (Thesis)، رد فرضیه (Anti-thesis) او د دواړو برخو ګډون (Synthesis)د نویو حقیقتونو د تشکیل او تخلیق پېلامه ګرځي"(11).

دکارل مارکس(Karl Marx)اوفریډرک اینګلز (Frederic Angels) ) فکر دا دی چې د یوې ټولنې معاشي حالات او شرایط د ټولنیزو حالاتو او انساني تعلقاتو، خیالاتو او اقدارو پېلامه ګرځي. د مارکس د وېنا سره سم د کلتور د ماڼی (پاسنی جوړښت) بنیادونه (تاداو) د ټولنې پر معاشي حالاتو او شرایطو پورې اړه لري. هم دغه خبره مخ ته داسې را غونډه شوې ده چې، د یوهٔ کلتور جوړښت د ټولنې د معاشي ذرایعو او اوزاروسره اړه لري. له د ې خبرې سره د جرمني ټولنیزو او سیاسي علومو ستر فلسوف مېکس ویبر (Max Webber)له سره اتفاق نهٔ لري. هغه د یوې ټولنې مذهبي عقېدې او روحاني رشتې د هغه دکلتورتاداو (بنیاد) ګڼي. هغه و انسان ته کلتوري سادار وائي او فکر لري چې د دنیا په حقله زمونږ رویه د یوهٔ خاص صلاحیت په برکت له ازله وجود لري.

*هم دغه عمل ته د شلمې صدۍ نوموړی انقلابي تعلیم پوه پاولو فریرې" پراکسس" یا تنقیدي شعوري عمل وایي، په خپل معروف اثر(پیډاګوجي آف دي آپریسډ)کښې دثقافتي عمل د لارې د نویو تنقیدي روئیو او په انسانانو کښې د دوامداره عمل له پاره تخلیقي اپروچ خپلولو ته زیات اهمیت ور کړی دی.

هم دغه ډول هغه د مارکس او اینګلز سره مخ ته هم خپل اختلاف په ډاګه وړاندې کوي او په دې اند دی چې ټولنپوهان ودې هدف ته و هڅوي چې هغوی دې د سرمایه دارانه نظام دیوۀ کلتوري مظهر (پدېده) په توګه څېړنه وکړي چې دغه د یوۀ معاشي حقیقت په ډول و سپړل شي.

د کلتور په حقله د ټولنپوهانو سره سره ادبي نقادانو او لیکوالانو هم خپل نظر څرګند کړی دی. دانګرېزي ژبې او ادب نامتو شاعراو کره کتونکی ټي ایس ایلیټ(T.S Elliot) د یو کلتور د جوړښت او ودې او پر مختګ له پاره درې عوامل لازمي ګڼلي دي.

"ثقافت کے لیے تین اہم چیزوں اہم شرائط کا ہونا ضروری ہے۔ ان میں سے اول عضوی جد یعنی تشکیل و تعمیر کا ہونا ضروری ہے۔ جو محض منصوبہ بندی کا نتیجہ نہ ہو بلکہ خود بخود وجود میں آئے، مثلاً کسی معاشرے نسل کے بعد نسل کو منتقل ہو۔ اسی لئے یہاں معاشرتی جماعتوں کا وجود بھی ضروری ہے۔ دوسری شرط جغرافیائی ماحول ہے اور تیسری شرط مذہبی اتحاد ہے جو ایک ثقافت کو متشکل کر دیتا ہے"(12)۔

ژباړه: "د ثقافت له پاره درې شیان لازمي وي، لومړی د یوۀ کلتور جوړښت او استقلال دی، خو کلتور په مصنوعي لارو چاروخپل اصل ژوندې نۀ شي ساتلی، ځکه نو کلتور و ارتقایي یون ته ډېر ورته حرکي مزاج لري. دویم دا چې کلتور که څۀ هم د جغرافیایي چاپېریال په ساحه کښې واقعه کېږي ځکه نو دا اړخ یې د څېړنې و عمل ته حواله کول پکاردي. دریم لامل یې د مذهبي یووالی دی، چې په ټولنیز ژوند کښې یوهر اړخیزه او ارت ځای مومي".

د ټي ایس ایلیټ د نظر سره ورته ډېرنظرونه شته چې د یوۀ کلتور د جوړښت بنسټونه او اساسي توکې وړاندې کوي. سبط حسن په خپل اثر "**پاکستان میں تہذیب کا ارتقا**" کښې وړاندې لیکي:

"دنیا کی ہر نئی پرانی تہذیب کی تشکیل چار عناصر ترکیبی سے ملکر بنی ہے۔ ۱- طبعی حالات، ۲- آلات و اوزار، ۳- نظام فکر و احساس، ۴- سماجی اقدار۔ اس میں نہ مشرق اور مغرب کی تخصیص ہے اور نہ سرد و گرم علاقوں کی قید"(13).

ژباړه: "دنړۍ دهر نوي او پخواني کلتور د جوړښت او تشکیل تر شا څلور توکي (عناصر) په مستقیمه توګه کارکوي چې په کښې ۱) مځکني یا طبعي حالات، ۲)اوزار او آلات، ۳) د فکر او احساس نظام او ۴) ټولنیز قدرونه شامل دي. دغه څلور عناصر د شرق او غرب، او د سړې او تودې علاقې د توپیر پرته هر ځای یو ډول مستعمل وي".

خو دغه عوامل یو پر بل هم په مستقیم ډول اثر اندازه کېږي. په لاندینیو کښې به مونږ د دې لاملونو تفصیلي جاج واخلو.

## محيط، مځکني او طبعي حالات:

د يوې ټولنې او وګړو پر کلتور د مځکني اوطبعي حالاتواغېزه په مستقيم او نېغ انداز کېږي. د پښتواولسي متل "لکه غر دغسې يې کربوړې" په مصداق دخاورې سيمې او علاقې د قدرتي جوړښت اومحېط د ژوندپر هر اړخ جوت اثرات اچوي. ديوې سيمې ځنګلونه، سيندونه،لوړې او ژورې، فصلونه، موسمونه، څاروي، مُرغان، خزنده ګان و خسمانان، درختې، ونې، بوټې، غرُونه، رغُونه، اوبهٔ او هوا هغه خارجي او نهٔ بدلېدونکي (Constant)عوامل دي چې د هغه دوګړو ژونددود، معاش، عادتونُو، خصلتونُو، خوراک، څښاک و پوښاک، اخلاق، قدرونو، رسمونو، فن و ادب، موسيقۍ،شاعرۍ،او په عمومي توګه د هغوی و جذباتو او احساساتو ته رنګ او کړهٔ وړهٔ ورکوي. ځکه د نړۍ پر سرد مځکني جوړښت او موقعيت له جوره بيلا بېل کلتورونه او تهذيبونه په وجود کښې راغلي دي.د افريقې په ځنګلونو کښې اوسېدونکي انساني ټولنې په هر لحاظ د هندوستان د وګړو څخه بيل دود، درک، خوراک څښاک،قيصې او شاعري،موسيقي، کرکې، کړنې، يرې او هيلې لري. هم دغه ډول د صحرا عرب ګښته صحرايي بدُو په کلتوري لحاظ د يورپ، امريکه، آسټرېليا څخه په کُلي اوجُزي توګه بېل دي. که د پخواني او لرغونې وخت د صحراعرب وعلومو و فنونوته وکتل شي نومونږ ته ددې سيمې في البديع اولسي شاعري او شفاهي روايت ډېر په زور کښې ښکاري. له دې پرته دلته مونږ ته د انځورګرۍ او د مجسمه سازۍ د فن هيڅ درک نهٔ ښکاري. ددې سوب حتماً په دې سيمه (صحرا) کښې دهغه کاڼو نهٔ شتون دي چې مجسمې ورڅخه توږل کېږي او د هغه ادارو نشتون دی چې دغه مخصوصه آرټ ته وده ورکوي. بل ددې تر شا دوګړو د کوچپاني ژوند اود وربښو تر شا د لېږدېدلو عمل داسې ستونزمن دی چې په کښې د نورو علومو او فنونو د روزنې او پالنې ګنجايش نهٔ پاتېږي. د دې پرته د مذهب اسلام واحداني روايت هم په دې حقله خپل غالب اثر پرې ايښی دی چې خلق د مجسمه سازۍ او سنګ تراشۍ و هُنر او ذوق ته په ښه سترګه نهٔ ګوري.

د پښتنانهٔ وطن د مځکني جوړښت او موقعيت ددې سيمې د انسانانو پر برخليک په مستقيمه ډول اغېزه کړې ده. که د مځکني جوړښت تړون د قدرتي وسائلو، ځنګلاتو، اُوبو او فصلونوسره وتړل شي نو تر اوسه دمه (فعل حال) پورې لا دا ټاټوبی و زياتو انسانانو ته د روزګار، خوراک، او کاروبار هغه مواقع نهٔ شي ورکولی کومې چې ددې سيمې اوسيدونکي په نورو ولاتونوکښې د پردېسۍ، خوارۍ او مسافرۍ څخه راوګرځوي. ددې مقالې له پاره د ډاکټر مبارک علي سره يوه لنډه مرکه (انټرويو) وشوه.د دې مرکې په ترڅ کښې هغه ددې اصل غبرګون وکړ چې: "که د پښتنو د مهاجرت وتاريخ ته پام وکړو نو دا خبره جوتيږي چې هغه زياتره سيمه چې پښتانهٔ ورباندې مېشته دي تر ډېره وخته پورې و زياتو انسانانو ته د خوراک ورکولو صلاحيت نهٔ لري. دا خبره چې څومره پرون رښتيا وه هغومري يې نن هم تر ډېره حده خپل اثر درلودلی دی."

د زراعت له لحاظه که د افغانستان د پښتنو حالت وکتل شي نو د(Mundi Index) د اټکل څخه داخبره جوتېږي چې،ترکال میلادي۲۰۱۱کښې دلته ۱۱فیصده مځکه د کښت کروندې له پاره کارول شوې ده.

هم دغه ډول اټکلونه دلر وبر پښتونخوا د نورو پښتني سیمو په حقله د بیلا بیلو قدرتي او انساني وسائلو په حقله کېږي. ایم جي اکبر په خپل اثر کښې د افغانستان د جوړښت په حقله یو اولسي متل راخپستی دی چې زمونږ د موضوع سره ډېر اړخ لګوي.

"God had a pile of rocks left over after creation, and so he made Afghanistan"(14).

(ژباړه): "افغانان وايي، خدای چې څۀ وخت دنیا جوړه کړه نو ډېر کاڼي او لوټي (کچره) ورڅخه زیاتي شول، له کومه چې یې افغانستان جوړکړو".

له دې بحث په رڼا کښې مونږ و ئیلی شو چې د قدرتي وسیلو د کمبوت یا نۀ کارولو په سوب پښتانۀ هر وخت د لېږد بدلو او بل وطن ته و مسافرۍ ته اړ شوي دي. دې ته مونږ یو ډول د قدرت جبر وئیلی شو، خو د کو چیاني ژوند سره تړلي خلق ددې مجبورۍ سره د وچکالۍ یا ډوکلۍ په بڼه مخامخ دي. کوم وګړي چې هم دلته خپل ګزران کوي هغوی د وسائلو دکمبوت سره مخامخ وي ځکه نو د دې څخه خاص ډول ټولنیزې روئیې، رشتې او دود په وجود کښې راغلی دی. دا خبره په هر حال د سنجولو ده چې د مهاجرت او بې کورۍ سره مخامخ انساني ډلې/ټولنې چې څۀ وخت د خپلو رېښو (جرړو) څخه را پرې شي نو په نورو سیمو کښې هم هغه ډول خپل کلتوري عمل ته دوام نۀ شي ور کولې. که څۀ هم زیاتره و ګړي د تېر وخت په ارمان وي او د خپلو پلرونو ټاټوبی، نوم، نښان او عنعنات په اساطیري توګه یادوي خو هم هغه ډول کلتور په نوي چاپېریال کښې نۀ شي تخلیق کولی. د مهاجرت او بې کورۍ ورځې شپې په وګړو کښې د نوي سره د خپل برخلیک جوړولو لپاره ولولې ځواني شي، د خوارۍ او زیارکښی توان یې زیات وي، سترګې او غوږونو یې خلاص وي، ځکه هغه ډلې او ټولنې چې له بله ځایه را ببل شوې وي تر هغو ځايي خلقو په لږ وخت کښې ښۀ پر مخ تګ و کړی چې په معاشي او سیاسي توګه پاتې وي.

هغه سیمې چې خلق یې د زراعت، مالدارۍ او نور قدرتي وسائلو سره تړون لري مېلمستیا او تنګ تر نورو سیمو په کښې زیات وي. هم دغه ډول د دې سیمو خلق د مځکې سره د پیوستون په سوب ځايي پاتې شي او د نورو سیمو، قامونو، ژبني او نسلي ټولېو سره دتعامل نۀ درلودلو په سوب یې سیاسي پوهنه، د شهریت فهم او دژوند دنویو غوښتنو په حقله شعور نیم پوخته پاتې شي. کوم وګړي چې دمعاش له پاره د وطن نورو ولکو ته تللي وي دهغوی سیاسي، ټولنیز، معاشي اوښاري خبرتیا تر ځايي خلقو زیاته وي.

وبل پلو ته د پښتنو د وطن موقعیت هم په پام کښې د نیولو دی. ولې چې پښتانۀ دنړۍ پر یو مهم چارسو پراتۀ دي. د دې سیمې د تاریخ څېړنې څخه جوتېږي چې پرته د رومن امپراتورۍ بل د نړۍ په معلوم تاریخ کښې هر یوۀ امپراتور د افغانانو ټاټوبی ومنځني آسیا ته د پورې وتلو یا بیا وهندوستان ته

دراستنېدلو له پاره کارولی دی. هم له دې ځایه د سکندر مقدونوي، چنګیز خان، تیمور لنګ، بابر، دفارس امپراتوران، دزار روس امپراتوری، د بر طانوي فرنګي امپراتوران، د سوویت روس قدرتمندان او اوس بیا د نیټو د ځواکونه پر دې سیمه را لښته کړې ده. دپرله پسې بهرني یر غلونو په سوب دلته د توریالیتوب، جنګیالیتوب، ننګ، غېرت هغه قدرونه په وجود کښې راغلل چې نن هم په نړۍ کښې د پښتنو د شناخت څرګندونه کوي. د پښتنو او افغانانو جنګي صلاحیت او عادت د څهٔ قدرتي عمل نتیجه نهٔ دې بلکې د دې تر شا مخصوصه خارجي او تاریخي عوامل دي چې دځانګړې مځکنې موقعیت او قدرتي جوړښت په نتیجه کښې په وجود کښې راغلي دي.

هم دغه خبره لوی استاد حبیبي په خپل پاړکي "پښتو او پښتونواله" کښې کړې ده. هغه لیکي:

"هم دپښتنو مځکې "پښتونخوا" په داسې ځای کښې ده چې د دُنیا فاتحین ټوله پر دې خوا راتله، سکندر، مسلمانان، چنګېز، تیمور، بابر، نادرشاه افشار ټوله په دغو مځکو کښې تېر شوه. نو پښتانهٔ خو هم مجبوره وه چې دځان دفاع وکړي او خپله ازادي خوندي کړي.د دې لپاره جنګي اخلاق په دوئ کښې قوي او "شجاعت" د دوی دروحیاتو اواخلاقو ټینګ ټوک شو" (15).

هم دغه مځکنی جوړښت دې چې په تېرو وختونو کښې یې هم د پښتنو اجتماعي تاریخ او برخلیک لیکلی دي او نن یې هم دنړۍ پر سردغه مځکه ده چې دنړۍ ټول استعمارګر وربانديې راټول دي. دهم دغه بهرني جبر له جوره په پښتنو کښې داسې ملي او انفرادي روحیې رامنځ ته شوې چې ورځخه په وګړو کښې مخصوصه متشدده روئیې په وجود کښې راغلي دي.

ستیفن ټېنر په خپل اثر کښې د الفنسټن (Alphinston) د The Kingdom of Kabul په حواله د یوهٔ افغان سپین ږیري عکس العمل داسې ښکاره کړی دی:

"We are content with discord, we are content with alarms, we are content with blood, "the old man told him but "we will never be content with a master"(16).

"مونږ مخالفت ګاللی شو،مونږ هر ډول بدبختي منلی شو، ویني تویولی شو خوپر خپلو سرونو د یوه آقا لاس هیڅ کله هم نهٔ شو زغملی"

هم دغه ډول هاورډ هنسمېن (Howard Hunsman) په خپل اثر (Afghan War of 1879-80, Second Afghan War) کښې دپښتون وطن په حقله هم داسې ډول څرګندوني کړي دي.

"Afghanistan is a nation of soldiers, every adult being (apart from any military training he may receive) a ready swordsman"(17).

(ژباړه): "افغانستان یوعسکري قام دی، هرځلمی دځهٔ عسکري روزنې پرته یو پیاوړی تورزن دی"

هم پر دغه پاڼړه مخ ته هغه لیکي:

"Afghanistan then produced as a writer has said, nothing but stones and men: the stones made good Sungars, which thousands of men were always ready to defend"(18).

(ژباړه): "افغانستان لکه یوۀ لیکوال چې لیکلي دي، بل يې هیڅ نۀ دي زېږولي، کانې او خلق، خلق له کاڼو ښۀ مضبوط مورچل جوړ کړي او بیا د زرګونو په تعداد کښې د مورچل د دفاع له پاره ملاوې وتړي".

که مونږ د هندوستان و مځکني جوړښت ته ځیر شو نو داخبره به روښانه شي چې دلته د پېداوار او معاش وسیلو عقیدوي بنې خپلې کړي دي. ګنګا سیند د هندوستاني تهذیب شه رګ ګڼل کېږي ځکه چې دلته د ژوند د کرهنې اوکروندې شاوخواراچورلي. داوبو وسیله که څۀ هم ګنګا ده ځکه يې د دېوې (Goddess)حیثیت اختیار کړې دې او مځکه که څۀ هم د زرعي حاصلاتو او خوراکي موادو زریعه ده، ځکه ورته (دهرتي ماتا) مځکه مور وئیل کېږي. هم دغه ډول د کښت و کروندې په عمل کښې د غوا او غوايي زښت اهمیت د هغوی د وجود د تقدس او حُرمت سوب وګرځېدل. دا خبره پر خپل ځای ده، چې و هند ته د راستنېدلو څخه هم پخوا آریایانو په خپلو دُعاوو کښې له "اهورا مزدا" یعني "لوی ښتن" څخه د ساربه غواو غوښتنې کولې. د سبط حسن په ذکر شوې اثر کښې دغه خبره هم ذکر ده چې د آریایانو زیاتره شخړې به د غواوو په سوب په عمل کښې راغلې او ودې عمل ته "ګاوستي" وئیل کېده. په زړۀ پورې خبره دا هم ده چې د زیاترو پښتنو قبایلو تر منځ شخړې نن هم د ځارویو پر سر کېږي. د ګاوستي و دې عمل ته د سهېلي پښتونخوا په ژوندي کلتور کښې نن هم ناتار وئیل کېږي چې نن يې هم ځای په ځای په قبایلي سیمو کښې رواج تر سترګو کېږي.

د پر له پسې داخلي او خارجي جنګونواو شخړو په سوب پښتانۀ د علمي او تهذیبي شته منۍ څخه بې برخې پاتې شوي دي. دژونداو شناخت د بقا جنګ په مځکني جبر کښې داسې راګېر ساتلي دي چې دځنګلورو کلتورونو سره يې هم چنداني تخلیقی اتصال نۀ دې پاتې شوې. د نړۍ د نورو قامونود تهذیبي او علمي سرچینو څخه يې هغه ډول خپله علمي پانګه نۀ ده درنه کړې، چې دنوي عصرو غوښتنوته ځواب و وايي.

ځکه نومونږ ودې پایلې ته رسو چې د پښتني کلتور او ژواک په تشکیل کښې د مځکني موقعیت چې زیاتره سیاسي او معاشي اثرات لري او مځکني جوړښت چې بشپړه ټولنیز، فکري، فني، ادبي، اقداري او روحاني اثرات لري په جوته توګه د لته متحرک پاتې شوي دي.

## اوزار او الات:

د انساني تهذیب او کلتور په رغونې او ړنګونې کښې د اوزارو ډېر مهم کردار پاتې شوی دی. د تهذیب پوهنې د علم اډانه هم پر دغه اوزارو ولاړه ده. په اصل کښې د تهذیب د ماڼۍ هغه ستنې چې دټول تهذیب وربانديې تکیه کوي هم دغه اوزار دي. څۀ ډول چې اوزار وي هم دغه ډول کلتور اوتهذیب به ورڅخه پېدا کېږي. دتهذیبونه په حقله چې کومې پلټنې او کېندنې شوي دي له هغه څخه هم دا اصل

رابرڅېره کېږي چې د هر پېر اوزارو د هغه پېر دبشپړه ژوند څرګندونه کوي. چېرې چې انسان د ډبرو څخه داوزار کار اخېستی دی هلته د ژوند ، معاشي نظام، ټولنیزې رشتې، د پېداوار طريقې، جامه، د اوسيدلو ځايونه، قدرونه، رواجونه و رسمونه او مذهبونه له هغه وخته بېخي بدل دي چېرې چې وژوند ته اوسپنه يا نور دهاتونه راکښېوتي دي. لس زره کلونه وړاندې چې کوم زرعي انقلاب په عمل کښې راغلی د هغه تر شا تر ټوله بنيادي پېلامه هم دغه اوزار وو. ځۀ وخت چې و ژوند ته اوسپنه او نور دهاتونه داخل شو نو انسانانو دمځکې د نس څيرلو په کار کښې زيات برلاسي شول. لور، آره، بيلچه،کهی،کدال، کلنګ، دوخلې، ډل، توره، ډهال د هم دغه اوسپنې څخه جوړشوي دي.

په اوسني وخت کښې جهاز، موټر ګاډی، رېل، ټېنک، کمپيوټر، او نور مشينان چې د يوۀ نوي تهذيب خښته يې ايښې ده هم د بېلابېلو دهاتونو د کارونې نتيجه ده. که چرې د نن د پس جديد کلتوري ساحې څخه ديوازې د کمپيوټر مشين منفي شي، نو د دې کلتور ارتقاء شايد ډېره پر شا و تمبېږي. هم دغه ډول که يوازې ټرېکټر ورڅخه و اېستل شي، او د کر هنرې عمل يوار بيا د څارويو محتاجه شي، نو د هغه شا وخوا ټوله کلتوري نظام به د زبردسته بدلون سره مخامخ شي.

## د فکر او احساس نظام:

په هر کلتورکښې دخيال او احساس ځانګړې نظام خپلې رېښې ټينګوي. دغه رېښې چې ديوۀ قام په مځکه کښې ښخې وي، هم داسې مزاج لري لکه د هغه سيمې مځکه په خپله. که مځکه هواره وي، داوبو رودونه ورباندې رامات وي او وګړي يې دکښت و کروندې له پاره خپل وخت او توان په کار راولي نو هلته به حتماً آبادي وي. لکه څۀ ډول چې د وخت سره حالات بدلېږي، نوي ستونزې منځ ته راځي، داخلي او بهرني تضادت مخ ته راځي، د تخليق،ازادی، معاشي او ټولنيزې پراختيا ارزښت پېدا کېږي نو په هم داسې حالاتو کښې که د کلتور د خيال او احساس نظام ژوندې او فعاله وي نو دا امکان به زيات وي چې هغه قام دې په معنوي، اقداري، تهذيبي او مادي لحاظ پرمختګ وکړي. دخيال اوفکر نظام که څۀ هم دټولنې پر عقلي نظام دلالت کوي ځکه نو دا لازمي ده چې په ټولنه کښې دې د بدلون له پاره زمينه برابره وي. اوس دلته بيا سوال راپورته کېږي چې د بدلون په لار کښې تر ټوله اساسي متغير داولس او ټولنې اجتماعي روحيات او روئيې دي. که څۀ هم ټولنيز بدلون ورو ورو په عمل کښې راځي،ارتقاء په عمومي توګه خپله لار او رفتار په خپله ټاکي، خوپه اوسني حالاتو کښې چې انسانان په يوۀ نړيوال کلي کښې راګېر دي، دخپل فکر او داحساس نظام يې په مستقيمه توګه متاثر شوي دي.

په پښتني ټولنه کښې دفکر ارتقاء هسې هم ډېره ورو پاتې شوې ده. ځکه نودوګړو سره دومره علم خو وي چې دخپلو څارويو په وسيله خپل معاشي غوښتنې پوره کړي. دمعاش او هستوګنې طريقه هم هغسې پاتې وي لکه د هغه د پلار او نيکۀ په وخت کښې چې پاتې شوې وي. دوګړو اخلاقي روئيې،

هيلې، وېري اوخيالي دنيا هم هغه وي چې و دوئ ته دخپلو پلرونو او نيکونو ورپاتې وي. دپښتو متل دی: "څه دې کول، چې پلار نيکۀ دې کول". يابيا داهم وئيل کېږي چې، "له کلي ووزه له نرخه يې مۀ وزه".

د شلمې او يويشتمې صدۍ ختيځ پوهان او بشرپوهان لکه کېرو، سپېن، چارلس لنډهوم او فرېډرک بارت په دې اند دي چې پښتني ټولنه چې د دنيا ترټوله لوی اوفعاله قبايلي نظام لري، په اصل کښې د سيالۍ، برابرۍ او پښتونوالي پر روايتي تصوراتو راچورلي. په طبعي يا معنوی انداز د روايت تر چوکاټ چې څوک پښه اړوي نو ډېرې ګوتې پورته کېږي او د ټولنې نور وګړي د داسې فرد يا کهول سينه په پېغورونو رېز مرېز کړي. ځکه نو په کوچيانۍ او زرعي طرز زندګۍ کښې دخيال او فکر ارتقاء ډېره په ګرانه کېږي. دفلسفې نامتو مورخ "وېل ډيورانټ" د کلتوردکلي سره تړي او تهذيب دښاري ژوند تخليق ګڼي، او کومه پوهه،علم، پوهان او عالمان چې په کليو کښې زېږي هغه هم ښارونو ته مخې کوي. وېل ډيورانټ د تهذيب د تشکيل په حقله داسې ليکي:

*"تہذیب وہ معاشرتی تربیت ہے جو ثقافتی تخلیق کو فروغ دیتا ہے۔ چار عناصر مل کر تہذیب کو متشکل کرتی ہے۔ معاشی بہم رسانی، سیاسی تنظیم، اخلاقی روایات اور علم وفن کی جستجو، تہذیب ابتری اور بد نظمی کے خاتمے سے شروع ہوتی ہے کیونکہ جب خوف پر قابو پالیا جاتا ہے تو تجسس اور تعمیری اپچ آزاد ہوجاتا ہے اور انسان قدرتی طور پر زندگی کی تفہیم وتزہین کی طرف بڑھتا ہے"*(19).

ژباړه: "( تهذيب هغه ټولنيز تربيت دی چې د کلتوري تخليق ته وده (فروغ) ور بخښي. د تهذيب په تشکيل کښې څلور ځيزونه بنيادي کردار ادا کوي، معاشي تړون، سياسي تنظيم، اخلاقي روايات او دعلم وفن ترقي. د تهذيب پېل د بدنظمۍ (ګډوډۍ) او ابترۍ دختمېدو څخه کېږي، ولې چې څۀ وخت خلق پر يره باندې لاس بري شي او ديرې څخه خپل صلاحيتونو ازادکړي نو د هغه وروسته په ذهن کښې تجسس او د تخليق او تعمير خيالونه او ارادې راځي او انسان په قدرتي توګه دژوند مقصديت او د ښکلاولورته سم شي).

هسې خو په پښتني ټولنې کښې دخيال او احساس ارتقا هم هغسې په روايتي توګه ورو پاتې شوې ده خو بيا هم دشلمې صدۍ په اخري درو لسيزو او ديويشتمې صدۍ په ۱۴ کلونو کښې چې کومې انساني او فطري ستونزې دپښتنو دژوند او بقا سوالونه راپېداکړل، هغوی و لويو لويو ښارونو ته د مهاجرت په حالت کښې و لېږد ېدل او اوس داسې ښکاري چې دپښتنو ښاري آبادي ورځ تر ابله مخ په زياتېدو ده.

## د قدرونو ټولنيز نظام

دا خبره جوته ده چې انساني ټولنې چې د مدنیت او تهذیب ولور ته ستنیږي په کښې د نظم وضبط او استقامت خاصیت سپوا کیږي. په صنعتي او جمهوري ټولنو او ریاستونو کښې داسې ادارې په وجود کښې راغلي دي چې وانسانانو ته انصاف، ازادي، خوراک، تعلیم، ځښاک، رخت، کور، روزګار لنډه دا چې د ژوند ټولې اسانتیاوې برابرې کړي دي. دفلاحي ریاستونو لکه سویډن، ناروې، او په نورو کښې دولتي ادارې دانساني خدمتونو کولو ته کلکه ملا تړلې ده. چېرې چې د دولت نظام پیاوړی نۀ وي، یا یې منشا د اولس خدمتونو نۀ وي، هلته ټولنه خپل داسې قدرونه تخلیقوي چې دانساني نسل او کلتورپایښت او روزنه په عملي توګه امکان پېدا کړي. د مېلمستیا، اشر، بدرګې، جرګې، ننواتې قدرونه که څۀ هم د لرغونې پښتنې ټولنې نخښې دي چې اوس لاهم په زیاترو سیمو کښې فعاله او موثر رول لوبوي، د نړۍ په خاورې قبایلي معاشرې کښې په یوه نۀ یوه شکل وجودلري. لکه څۀ ډول چې کلتور او روایت د وګړو د ارزښتونو په ترڅ کښې په وجودکښې راځي. هم دغه ډول د انساني قدرونه په وسیله ډېر کمزوري قامونه، کورونه او افراد د مرګ له ژامو خلقو دخپلې انساني جذبې په وسیله را ایستلي دي. هم دغه دمرستې، مینې، خلوص، خپلوۍ، عزیز ګلوۍ، سیالۍ او میړانې قدرونه دي چې دوګړو وژوند ته یې دوام ورکړی دی. په زړۀ پورې خبره داده چې په کومه سیمه کښې چې محیط (چاپېریال یا فطرت) ډېر سخت او جابره وي هلته په خلقو کښې د یوۀ او بل له پاره د مرستې قدرونه او جذبات زیات وي. اوس لکه چې په صحرایي ژوند کښې دمېلمستیا رواج ډېر عام دی. که یو کس په صحرا کښې سرګردانه ګرځي او بیا یو کلي یا کور تر سترګو ور شي، د هغه کلي یا کور و ګړي به حتماً د هغۀ مرسته کوي. د هغۀ د خوراک، څښاک، ارام او تحفظ خیال به ساتي. ولې که دغه ناګهانه راغلي مېلمه ته دشپې له پاره ځای او خوراک ور نۀ کړل شي دا امکان لري چې هغه دې دلوږې، تندې، یخ، یا ګرمۍ څخه ژوند له لاسه ورکړي. د علم بشریات او کلتوري څېړنو څخه دا حقیقت هم جوتېږي چې د مځکې جوړښت او محیط (چاپېریال) د ټولنیز او کلتوري قدرونو سره پیوسته تړون لري. استاد حبیبي د مېلمستیا دقدر په حقله لیکي:

"د دې اجتماعي او طبیعي محیط اثار وو چې په دوی کښې ځینې ملي دودونه پېدا شوه، پښتانۀ په ژوندون کښې متقابل احترام ډېر پخوانی دی. دیوۀ قام یا کهول یو سړی په بل کلي یا کام خواته ولاړ، ژمی، واوره په کلي یا قبیله کښې دمدنیت په ډول دکان او دغذا او خوړو یادهستوګې ځای هم نۀ ؤ، نو دې کیفیت پښتانۀ ناچاره کړۀ، چې دمېلمنو دراحت دپاره ډېرې جوړې کړي او په هرکلي کښې دنورو قبیلو یاکهولو دمېلمنو دراحت دپاره درې او کوټې ولري... دې روح په اوږدو زمانو کښې دمېلمانۀ احترام

او روزنه داسې دپښتنو په عقلیت او اخلاقو کښې دننه کړه چې په پایٔ کښې به په کلي کښې تر هغو چا دماښام ډوډۍ نۀ خوړه څو مېلمه نۀ وي ورغلی"(20).

د خواخوږۍ دغه جذبه د یوۀ خاص قدرتي جبر په ترڅ کښې په وجود کښې راځي او کلتوري عمل دا پرېکړه کوي چې ټول انسانان باید د قدرت د جبر په مقابل کښې او د نورو انسانانو سره مرسته وکړي. د انسانانو دغه یو پر بل انحصار او تکیه د مېلمستیا او بدرګې و قدر ته دوام ورکوي. په کلپواله پښتني ټولنه کښې نن هم د مېلمستیا، اشر، داړ، چیغه، ننواتې او بدرګې قدرونو په څۀ نه څۀ بڼه ژوندي او فعاله پاتې دي.

## پایله:

ثقافتي عمل دټولنې او وګړو د پر مختګ لارې هواروي او انسانان د خپل ټولنیز تنقیدي شعورپه برکت د تضاداتو د ختم کولو ولورته یون جاري ساتي. د انساني ټولنې تاریخ دا خبره په وار وار غبرګوي چې د انسان دټولنیز شعورپر مختګ د بېلابېلو تضاداتو، تنازعاتو، کشالو او سوالونو په وسیله مخ پر بیهې (ترقي) تللی دی.

له دې څخه دا خبره نوره هم روښانه کېږي چې کلتورد انسان د تهذیبي یون ښکارندوئ دی. کلتور یو تخلیقي عمل دې چې انسان هر وخت د خپل ضرورت له پاره تخلیق کړی یا اختیار کړی دی. د انسان ارزښتونه د وخت او ځای سره بدلیږي، ځکه نو د کلتور ظاهري بڼه او اقداري نظام هم ورسره بدلیږي. دلته مونږ دې پایلې ته رسیږو چې انسانان کلتور دخپل ضرورت له پاره تخلیق کوي او د ضرورتونو د بدلیدو سره سم په خپل کلتورکښې هم بدلون راولي. داخبره د پام وړ ده چې دیوې ټولنې کلتورد یوداسې تصورمثال لري، چې دکلتورداجتماعي شعور او عنعنوي شته منۍ په وسیله د بدلون وخواته خوزښت کوي.

***

# حوالي

1) Peter Watson, IDEAS a history from Fire to Freud, Phoenix London, 2006, page xxiii

2) . سبط حسن، پاکستان میں تہذیب کا ارتقا، مطبع ذکی سنز- کراچی، سال ۲۰۱۲ء ص ۱۷-۱۸۔

3) همدغه اثر، مخ ۱۸

4) جمیل جالبی (ڈاکٹر)، پاکستانی کلچر، اٹھویں اشاعت، ۲۰۰۸ سال، مطبوعہ محمود برادرز گوالمنڈی راولپنڈی، ص ۴۲.

(5 Douglas Harper, (2001). Online Etymology Dictionary

(6 Merriam-Webster, An encyclopedia Britannica Company Online. http://www.merriam-webster.com/dictionary/culture Last Accessed Nov 20th ,2012

7) Ibid

8) Kluckhohn,C., & Kelly, W.H. (1945). The concept of culture. In R. Linton (Ed.). The Science of Man in the World Culture. New York. (pp. 78-105).

9) جالبی، جمیل (ڈاکٹر)، پاکستانی کلچر، ص ۴۲

10) ملک، مظفر حسن، ڈاکٹر، "ثقافتی بشریات" مقتدرہ قومی زبان پاکستان، ۲۰۰۳ء، ص ۵۰

11) علی عباس جلالپوری، "تاریخ کا نیا موڑ" تخلیقات لاہور ۲۰۱۰، ص ۴۷

12) ڈاکٹر مظفر حسن ملک، "ثقافتی بشریات" مقتدرہ قومی زبان پاکستان، ۲۰۰۳، ص ۳۳

13) سبط حسن، پاکستان میں تہذیب کا ارتقا، ۲۰۱۲ء، ص ۲۵

14) M.J.Akbar,The Shade of Swords; Jihad and the conflict between Islam and Christianity. Lotus collection Books, 2002, Page.201

15) عبدالحی حبیبي، پښتو او پښتونواله، بېنوا فرهنګي ټولنه کندهار، ۲۰۰۳ء مخ ۹۲

16) Stephen Tanner, Afghanistan a military history from Alexander the great to the fall of Taliban, Oxford University Press, 2002, P.134

17) Howard Hensman, Afghan War of 1879-80, Second Afghan War, First Edition, London: H.Allen & Co.,13, Waterloo Place S.W Publishers to the India Office 1881, Second Edition Sang-E-Meel Publications -25 Sharah-e-Pakistan (Lower mall) Lahore,1999 p-320

18) Ibid, p.320

19) ویل ڈیورانٹ، انسانی تہذیب کا ارتقا، اردو ترجمہ تنویر جہاں، فکشن ہاوس لاہور، ۲۰۱۲ء، ص ۵

20) عبدالحی حبیبي، پښتو او پښتونواله، کال ۲۰۰۳ء، مخ ۴۵